## سروې:

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز په تېرو درېو مياشتو کې (د سنبلې له لومړۍ نېټې د قوس تر پنځمې نېټې) د هېواد په شپږو لويو ښارونو (کابل، هرات، کندهار، ننگرهار، بلخ او کندز ولايتونو) کې د سولې په اړه يوه نظرپوښتنه کړې ده. په دې نظرپوښتنه کې د سولې په برخه کې ځينو فعالو ادارو، د سولې په هڅو کې فعالو شخصيتونو، د پوهنتونونو استادانو او نورو اهل نظر او نخبه شخصيتونو څخه د يوې پوښتنپاڼې له لارې، د هغوی نظر پوښتل شوی دی، چې ټول شمېر يې ۱۸۵۵ تنو ته رسېږي. د دغې سروې څو مهمې موندنې په همدې غونډه کې له رسنيو سره شريکېږي؛ خو بشپړه سروې به وروسته د مرکز له‌خوا خپره شي.

## د سروې ځينې موندنې:

(۱) د سروې د موندنو له مخې، ۸۲.۸۱ سلنه پوښتل شوي کسان په دې نظر وو، چې په هېواد کې روانه جگړه وروکي (گټونکې) لوری نه لري او د دغې جگړې پای په سولې سره کېدای شي.

(۲) دا چې تر اوسه د سولې هڅې ولې ناکامې دي، د سروې ۶۷.۴۱ سلنه خلکو يې لامل د سولې لپاره د افغان حکومت د رښتيني ارادې نشتوالی بللی دی.

(۳) د سروې ۷۳.۰۶ سلنه پوښتل شوو کسانو ويلي، چې په هېواد کې نيابتي جگړه روانه ده او په اوسني وخت کې افغانان په حقيقي معنا د سولې واک نه لري.

(٤) د پوښتل شوو کسانو ٦۵.۵۵ سلنه په دې نظر وو، چې پاکستان نه شي کولی، طالبان د سولې خبرو اترو ته حاضر کړي؛ خو په دې برخه کې مرستندوی رول لوبولی شي.

(۵) د سروې له مخې، ۷٦.۳۹ سلنه گډونوال په دې نظر وو، چې د سولې عالي شورا د سولې په بهير کې د يوه رېښتيني منځگړي رول نه شي لوبولی.

(٦) د دې پوښتنې په ځواب کې چې د سولې خبرې څه ډول پرمخ يوړل شي، ۷۸.۸۸ سلنه پوښتل شوي کسان په دې اند وو، چې د سولې بهير د بريا لپاره د افغانانو يو دريمگړی او بې‌طرفه لوری اړين دی.

(۷) دغه راز تر ټولو ډېرو خلکو يعنې ۹۰.۲٦ سلنه پوښتل شوو کسانو د سولې بهير د بريا لپاره د بين‌الافغاني تفاهم له طرحې سره همغږي ښودلې ده.

**وړاندیزونه:**

د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز، د سولې په برخه کې د خپلو څېړنو او نورو فعالیتونو په رڼا کې، د سولې د هڅو د بریا لپاره لاندې وړاندیزونه کوي:

(۱) جګړه د حل لاره نه ده او تېرو جګړو دا ثابته کړې، چې د هرې جګړې پای په خبرو اترو کېږي. له همدې کبله له ښکېلو خواوو غوښتنه کوو، چې سولې ته په هر ممکن ډول چې کېږي، لاره هواره کړي او د وینې د تویېدو مخنیوی وکړي.

(۲) دا چې د افغان جګړې اصلي خواوې افغانان او د روانې جګړې اصلي قربانیان هم افغانان دي؛ له حکومت څخه مو غوښتنه دا ده، چې د جګړې د پای ته رسولو لپاره د افغانانو ترمنځ پر تفاهم تمرکز وشي او د سولې اساسي دروازه پاکستان ونه بلل شي.

(۳) که څه هم روانه جګړه «له بهرنیانو سره د جګړې» تر عنوان لاندې روانه ده؛ خو د جګړې اکثریت قربانیان افغانان دي؛ له همدې کبله له طالبانو غوښتنه کوو، چې د دغې جګړې د پای ته رسولو مسؤولیت درک او د جګړې پر ځای د جګړې پر پای ته رسولو فکر وکړي.

(٤) موږ د بین‌الافغاني تفاهم د بریا لپاره د یوه داسې دریېم‌ګړي لوري پر رامنځته کولو ټینګار کوو، چې د جګړې ټولو لوریو ته د منلو وړ وي؛ ترڅو د ښکېلو لورو ترمنځ شته بې‌باوري راکمې او د دواړو خواوو نظرونه سره لنډ کړي.

(۵) سوله یوه ملي قضیه ده او ابتکار یې هم باید افغانان په خپل لاس کې واخلي؛ ځکه نو که څه هم په هېواد کې د سولې لپاره د ډېرو جوړښتونو موجودیت ګټور دی؛ خو د همغږي کولو لپاره یې هڅې وشي او د سولې له قضیې سره د یوې پروژې په شان چلند او سیاسي ګټې اخېستلو مخنیوی وشي.